**Afghan Helpline – 020 170 1955**
Reintegration handout in Pashto
Date: 10 February 2010
IOM Regional office in Finland
www.iom.fi/afghanhelpline - swe2afg@iom.int

IOM International Organization for Migration

Migrationsverket
Swedish Migration Board

## آیا تاسوپه سویډن کی د یوه افغان وګړی په توګه افغانستان ته د بیرته تګ هیله لری؟
## IOM به وکولای شی چی له تاسو سره مرسته وکړی

**افغانانو ته د IOM مرستندویه کربنه:**

د ۲۰۰۹کال د جنوری په میاشت کی IOM هلسنګی د سویډن د مهاجرینو د پلاوی په همکاری د هغه افغانانو لپاره چی افغانستان ته د بیرته راستنیدنی علاقمند وی یو د مرستی تیلیفونی کربنه پرانیسته.

هغه افغانی وګړی چی افغانستان ته د بیرته ستندنی په وخت د لاس ته راتلونکو موکو په باب معلومات ترلاس کړی، کولی شی په لاندی تیلیفونی شمیره پرته له لګښت څخه اړیکی ټینګی کړی.

.۰۲۰۱۷۰۱۹۵۵

د مرستی تیلیفونی کربنه یو ویندوی لری چی په پښتو، دری او انګلیسی ژبو باندی پوهیږی. اړیکی نیوونکی د نورو معلوماتو تر څنګ کولای شی چی د بیا میشتکیدنی خدمتونو په اړه معلومات چی IOM افغانستان یی وړاندی کوی ، د بیا ځای پر ځای کیدلود نقدی مرستی پروسه، د افغانستان په هکله عمومی معلومات ، او د بیرته ستنیدنی پوره ترلی معلومات ترلاسه کړی.

همدارنګه د IOM د مرستی د تیلفونی کربنه اوپریټر سره په لاندی ایمیل ادرس او یا On line د لاندنی سایت له طریقه اړیکی نیولی شی.

Swe2afg@iom.int or cfahim@iom.int
www.iom.fi/afghanhelpline

هغه کسان چی د مرستی د تیلفونی کربنی د چلوونکی سره اړیکی ټینګوی، دیته اړ نه دی چی خپل نوم که ونه غواړی IOM ته افشا کړی.

همدارنګه IOM د شخص د هویت د ځرنګوالی په اړه تر هغه د سویډن له مقاماتو سره معلومات نه شریک کوی ترڅو چی د خپله شخص له خوا اجازه نه وی ورکړل شوی.

په دغه معلوماتی پاڼه کی د بیا میشتکیدنی د خدمتونو په باب بشپړ معلومات راغلی دی. هغه راستندونکی چی د زیاتو معلوماتو له تر لاسه کولو سره مینه لری، له هغو نه هر کلی کیږی تر څو د مرستی د تیلفونی کربنی له افغان چلوونکی سره اړیکی ونیسی. له سویدن نه بحر افغانان کولای شی په ۳۵۸۹۶۸۴۱۱۵۲۷+ شمیره اړیکی ټینګی کړی.



د مهاجرینو د نړیوال سازمان اوپریټر تیلفونی مشوره وړاندی کوی – هلسنګی ۲۰۰۹

**افغانستان ته له سویډن نه د راستنیدونکو د هر کلي او بیا ځای پر ځای کیدو په برخه کی مرسته کول**

که چیری تاسی په سویډن کی د پناه غوښتلو په برخه کی غوښتنلیک ورکړی وی او په خپله خوښه بیرته له سویډن نه افغانستان ته راستنیږی، تاسو د راستندنی نه وروسته کولی شی د کابل د IOM د بیا ځای پرځای کیدو د برنامه له لاری د سویډن د مهاجرت د بورد په همکاری مرسته ترلاسه کړی. د بیا میشتکیدنی مرستی چی سلا او مشوره یی هم یوه برخه دی د IOM افغانستان د کار کوونکو له خوا وړاندی کیږی. تاسو په خپله خوښه د یو داوطلب راستنیدونکی په توګه دا لاندی مرستی ترلاسه کولی شی:

۱- د هرکلی مرستی
۲- معلومات سلا او مشوره
۳- د بیا ځای پر ځای کیدو مرسته، د څارنی او تعقیب په شمول

۱- د هر کلی مرسته
IOM کابل له تاسو سره د کابل په هوایی ډګر کی کتنه کوی او له تاسو سره د مهاجرت د مقرراتو په برخه کی مرسته کوی او همدارنګه:

- د هغو سازمانونو په باب معلومات چی په افغانستان کی مرسته کوی او پوښتنو ته ځوابونه
- په افغانستان کی د تاسو د وروستی هدف پر لور انتقال، د هوا او یا ځمکی له لاری
- تر ۱۴ ورځو د لنډ مهال هستوګنی مرسته له بشپړ اعاشی سره د IOM د هرکلی په مرکز کی
- صحی مرستی د IOM د ډاکترانو لخوا د کابل په هوایی ډګر کی د اړتیا په صورت کی



د مهاجرینو نړیوال سازمان کارکوونکی د راستنیدونکو د ښه راغلاست په حال

تاسو کولی شی چی ورسته د راستنیدنی نه د یوه غوښتنلیک په وسیله صحی مرستی، وروستنی ترانسپورت او د لنډ مهاله استوګنه له IOM افغانستان څخه تر لاسه کړی. مګر سپارښتنه کیږی چی IOM افغانستان د دغه وړ اړتیاوو په باب د هلسنګی د مهاجرت د بورد او یا د IOM هلسنګی له خوا مخکی تر راستنیدنی خبر شی.
کله چی تاسو هوایی ډګر ته راورسیږی، IOM کابل تاسو ته د تاسو په ژبه یوه معلوماتی پاڼه چی په هغو کی ټول د اړتیا وړ معلومات د IOM د هغه دفتر پته چی د تاسو وروستی منزل ته نږدی موقعیت لری، درکوی. نو د همدی معلوماتو پر بنسټ تاسو کولی شی چی، په افغانستان کی د خپل وروستی منزل پر لور سفر وکړی او د بیا میشتکیدنی په اړه له IOM سره په تماس کی شی او خبری وکړی.

**۲. معلومات، سلا او مشوره ورکول:**
IOM افغانستان له ۹ ګونو دفترونو نه چې په فیض آباد، هرات، جلال آباد، کابل،بامیان، کندهار، کندز، مزار او ګردیز کې دی، د بیا میشتکیدنی په برخه کې سلا او مشوره ورکوی. له تاسو سره د مشوری درکولو په ترڅ کې IOM افغانستان د بیا میشتکیدنی د اړتیاوو په اړه او د تاسو د توانمندی په باب خبری کوی. د نمونی په توګه، که تاسو غواړی چې شخصی تجارت وکړی، زده کړی وکړی او یا د وظیفی په برخه کې هڅه وکړی
د مشوری ورکولو په برخه کې مهم ټکی، د تاسو مخکنی تجربه او د تاسو هغه څه شامل دی چې تاسو غواړی له بیرته ستنیدنی وروسته یې تر لاسه کړی. همدارنګه، مهمه دا ده چې د تاسو کومه تجربه او یا زده کړه چې په سویډن کې موتر لاسه کړی وی په پام کې نیولکیږی. نو دا به له تاو سره د بیا میشتکیدنی په برخه کې ډیره مرسته وکړی او په دی توګه سره تاسو کولی شی چې په کامیابی سره له خپلی تجربی نه ګټه تر لاسه کړی.
**۳. د بیا میشتکیدنی مرسته:**
د IOM د بیا میشتکیدنی مرستی انعطاف پذیر دی تر څو د تاسو د اړتیاو او غوښتنو سره مطابقت ولری.
په دی توګه تاسو څو انتخاب لری چې IOM سره په افغانستان کې د مشوره او خبری پری وکړی.

**مونږ دبیا ځای پر ځای کیدو په اړه دری انتخابه لرو.**

**۳a. د تاسی خپل کاروبار شروع کول / ذاتی کار موندنه**
که تاسو د وړوکی سوداګریز کار د شروع کولو انتخاب وکړی نو IOM افغانستان تاسو سره مرسته کوی تر څو یو مناسب کار شورع کړی.
د وړوکی سوداګریز کارانتخاب دتاسی د کاروبار نظر، مخکنی تجربه، نور کسبونه چې د تاسی د بیا راستنیدو په ساحه کې موجود وی تعلق مومی.
د سلا مشوری په دوران کې تاسی له IOM افغانستان سره د کار په هغه پلان باندی خبری او موافقه وکړی چې IOM پخوا له دی چې د تاسو کار شروع شی هغه منظور کړی.
تاسو باید چې د خپل کار د پرمختک لپاره فعاله برخه واخلی.
د مثال په توګه تاسو باید د یو کار یا د یو کسب د جواز د پاره غوښتنلیک وکړی او یو ځای وټاکی چې پس له د IOM له خوا تفتیش شی.
همدارنګه تاسو له IOM سره یو ځای لازمی سامان او وسایل تشخیص کړی چې دغه سامان څومره قیمت لری.
IOM افغانستان به وروسته تاسو سره د سامان په اخیستلو کی مرسته وکړی.
دا په دی معنی ده چې تاسو ته نغدی پیسی نه درکول کیږی، بلکې د تاسو د بیا میشتکیدنی په برخه کې د موجوده بودجې له لاره د IOM په وسیله د تاسو د اړتیا وړ سامان آلات رانیول کیږی. که تاسو ونه غواړی چې په یوازی توګه کوم تجارت پیل کړی تاسو کولی شی په یوه سوداګریزه مرکز کې خپله پانګه واچوی او یا له یوه بل راستنیدونکی مهاجر سره په ګډه د یوه تجارت بنسټ کیږدی.
دغه راز، تاسو کولی شی په لاندینی انترنتی پته کې د یوه بل راستنیدونکی په هکله چې د IOM له خوا مرسته ورسره شوی ده،معلومات تر لاسه کړی.
www.iom.fi/activities/successStories

۳B- زده کړه او کارموندنه (ټاکنه):
همدارنګه، تاسو کولی شی چې د بیا میشتکیدنی د مرستو نه زده کړه(تعلیمی او یا مسلکی) انتخاب کړی. د شرکاوو سره په هماهنګی،IOM افغانستان هغه ترینګونه وړاندی کوی چې په ننی مارکیت کې یو ډیر خاص ځای لری.

**په پیل کې د تعلیمی زده کړو په برخه کې د غو برخو ته پاملرنه کوی:**

- دفتری اساسی مهارتونه
- د انګلیسی ژبی زده کړه
- کمپیرتری اساسی مهارتونه

**حرفوی زده کړی په لاندی برخو کی متمرکزی دی:**

- د ودانولو مهارتونه (ترکاڼی، معماری او نور)
- د وظیفی په برخه کی زده کړه

که تاسو د وظیفی په برخه کی زده کړه انتخابوی نو تاسی به په داسی یوه شغل باندی وګمارل شی چی د هغه کسب په برخه کی د کار کولو مهارتونو زده کړی.

په معمولی توګه ترینګ له ۳ – ۶ میاشتو پوری وخت نیسی، هغه هم ستاسو په اړتیا او مهارت پوری تړاو لری. IOM د زده کړو له مختلفو انستیتوتو سره کار کوی خو دا هم امکان لری چی یو بل انستیتوت چی تاسو ته نژدی او مناسب وی او د تاسو له غوښتنو سره سمون ولری، انتخاب او په اړه یی له IOM افغانستان سره خبری وکړی. که تاسو کومه زده ګره کوی چی په هغه کی تاسو ته تنخوا نه درکول کیږی، IOM په تاسو ته د زده کړی په وخت کی اعاشه برابره کړی.

**3C- مراجعوی خدمتونه:**

تاسی د IOM له مرستونه د استفادی د امکان په ترلاسه کولو سره د کار کولو لاره په یو تجارت او یا یو موسسه کی ترلاسه کولی شی. که تاسو رجعتی خدمتونو ته د بیا میشتکیدنی د چاری په توګه ترجیح ورکړی، نو IOM کابل د خپلی شبکی له موجودو شریکانو نه کار اخلی، تر څو تاسی پیاوړو استخداموونکو ته راجع کړی.

**څارنه او تعقیب:**

د بیا میشتکیدنی د مرستو په نه پام کی نیولو سره(که هغه وړوکی تجارت، زده کړه او یا رجعتی)، IOM افغانستان به د هغه له پیل ورسته څارنه کوی. له څارنی نه هدف د کار ښه والی د دواړو لپاره تاسی او نور راستنیدونکو ته دی. د مثال په توګه که تاسو وړوکی تجارت پیل کړی وی نو د څارنی په وخت که په IOM له تاسو سره د پراختیا او ملاتړ د لارو چارو او د حقوقی مشورو له لاری تاسو د شغل مشابه او ورته شریکانو ته وروپیژنی.

**د بیا میشتکیدنی د مرستو لپاره څرنګه غوښتنه وشی؟**

دا د سویډن د مهاجرینو پلاوی دی چی تصمیم نیسی چی آیا تاسو د بیا میشتکیدنی د مرستو مستحق یاست او که نه. که چیری غواړی چی پوه شی چی آیا تاسو مستحق یاست نو د IOM هلسنګی د مرستی د تیلفونی کرښه سره اړیکی ټینګی کړی. تاسو باید د تیلفونی کرښی اوپریټر ته اجازه او خپل دکیس شمیره ورکړی تر څو چی د سویډن د مهاجرینو له پلاوی څخه په دی اړه وپوښتی.

**د بیا میشتکیدنی مرستی هغه افغانانو ته ورکول کیږی چی:**

- په سویډن کی یی د پناه غوښتنه کړی وی
- او هغه کسان چی په خپله خوښه غواړی افغانستان ته مخکی د 30-June-2010 څخه ستانه شی

که تاسو په سویډن که د هستوګنی اجازه لری، که تاسو د سویډن یو اوسیدونکی شوی یاست او یا تاسو یو پناه غوښتونکی یاست چی سفر مو د سویډن پولیس برابر وی نو تاسی د بیا میشتکیدنی د مرستو مستحق نه یاست.

سپارښتنه کیږی چی مخکی د سفر نه تاسو د بیا میشتکیدنی د مرستی لپاره یو جلا غوښتنلیک ډک کړی. تاسو کولی شی دا غوښتنلیک د لاندی سایت څخه تر لاسه کړی. د لا زیاتو معلومات د ترلاسه کولو لپاره په لاندی شمیره اړیکی ټینګی کړی: ۰۲۰۱۷۰۱۹۵۵

www.iom.fi/afghanhelpline

**په لاندی انځور کی د غوښتنلیک یوه نمونه لیدلای شي:**



فورمه د امکان تر حده په ډیر احتیاط او پاملرنی سره ډکه او ورسته تر لاسلیک نه یی د سویډن د مهاجرینو پلاوی ته او یا IOM هلسنگی ته وسپاری. ورسته تر هغه به ستاسو د مرستی غوښتنه IOM افغانستان ته د رسیدنی پر وخت د برابرولو لپاره ولیږی. که چیرته تاسو پوښتنه لری چی څرنګه غوښتنلیک ډک کړی، نو تاسی کولی شی چی د IOM هلسنگی د مرستی د تیلفونی کرښی څخه مشوره وغواړی.

**د بیا ځای پر ځای کیدو ملاتړ:**

د بیا ځای پر ځای کیدو ملاتړ د بیا میشتکیدنی په شان چی IOM افغانستان یی وړاندی کوی نه دی بلکه دا نغدی مرستی دی.

د بیا ځای پر ځای کیدو مرستی نغدی او د بیا میشتکیدنی مرستی مالی دی. که چیرته تاسی مستحق وی نو ممکن دواړی مرستی تر لاسه کړی.

تاسی باید په جلا توګه د سویډن د مهاجرینو پلاوی ته د بیا ځای پر ځای کیدو د مرستو تر لاسه کولو لپاره غوښتنلیک ولیږی. ستاسو د کیس پرمخ وړونکی د سویډن د مهاجرینو په بورد کی به په دی وتوانیږی چی تاسو ته ووایی چی تاسی د خپلی خوښی د راستنیدنی په صورت کی که چیری د نغدی مرستی مستحق وی.

نور معلومات:

ایا غواړی چی لا زیات معلومات تر لاس کړی؟

مهربانی وکړی د IOM هلسنگی د مرستی د تیلفونی کرښی سره اړیکی تینګی کړی او یا زموږ ویبسایت نه لیدنه وکړی تر څو ډیر معلومات تر لاسه کړی.

زموږ سره اړیکه له سویډن څخه بحر: ۳۵۸۹۶۸۴۱۱۵۲۷+

د مرستی د تیلفونی کرښی شمیره

۰۲۰ ۱۷۰ ۱۹۵۵

www.iom.fi/afghanhelpline

Swe2afg@iom.int

د هلسنگی IOM د ناردیک او بالتیک د ایالتونو لپاره سیمه ییز دفتر او د اروپا ګاوندی هیوادونه (ختیځ)

یونین انکاتو ۱۳، شپږم منزل

د پست بکس بشمیره ۸۵۱-

FIN-۰۰۱۰۱ هلسنگی

د تیلفون شمیره: ۳۵۸۹۶۸۴۱۱۵۰+

د فکس شمیره: ۳۵۸۹۶۸۴۱۱۵۱۱+

ایمیل: mrfhelsinkiavr@iom.int